پوهندوی آصف بهاند

# «د خپلو لـوښـو معلمي کـومـه...»

## (د نجونو د تړلو ښوونځيو ستونزه)

په کړاوونو کې خندا وباسم
نور د غمونو نه ژړا وباسم

چې ارزښتونه مې زندئ وي پکې
زه مې د هغې ساه نه ساه وباسم

د خپلو لـوښـو معلمي کـومـه
کور نه د تور جهل بلا وباسم

زبون په کنج کې د کوټې نه کېنم
قام نه د وېرې مړه بلا وباسم

(باور)

له شپږم نه تردولسم ټولګي پورې د نجونو د ښوونځيو تړلو د ناسور په اوج کې، بې تجربې واکدارانو، د نجونو پرمخ د پوهنځيو دروازې هم بندې کړلې او يو بل داسې ټپ يې د افغان ټولنې پر زخمي بدن وراضافه کړ، چې چا يې اټکل هم نه کاوه.

نوي واکداران په دې نه پوهېدل چې د دوی دا تصميم نورې څومره ستونزې رامنځته کوي چې ښايي د دوی واکمنۍ ته هم يو نه څو جدي ګواښونه او خطرونه متوجه کړي. د دوی د يادو منفي پرېکړو په مقابل کې کور دننه او بهر غبرګونونه پيل شول. کور دننه د بېلابېلو پوهنتونونو د استادانو مستعفي کېدل او بيا د نارينه محصلينو ټولګيو ته نه تګ يې ښې او سوليزې بېلګې دي.

د نجونو پرمخ د لوړوزدکړو مؤسسو تړلو په اعتراض کې، د پوهنتونونو نارينه محصلينو د اعتراض په ډول ټولګيو ته تګ بند کړی دی او ويلي يې دي چې يا به زدکړې د ټولو لپاره وي او يا موږ هم خپلې زدکړې بندو. ما يې په ټولنيزه ميډيا کې د اعتراضيه ليکونو دېر متنونه وليدل، دا لاندې يې يوه بېلګه ده چې هم يې يو نظر او هم يې د مينې يوه لاره ګڼلی شو:

«څومره درنه پرېوځي، چې د بل لخوا، ستا پر ذهن پنجرې راتاو شي؛
پر احساس او عاطفه دې پنجرې راتاو شي؛
غوږو او سترګو ته دې فلتر ولګول شي؛
او ژوند دې، قفس قفس شي!
ددې سراسر زندان څخه ازادېدلو لپاره، ښايي لازمه وي، چې همدا اوس، همدا شېبه:

له خپل زړه، ذهن، احساس، دریځ او کړنو څخه،
ټول هغه فکرونه، باورونه، اخلاق او انګېرنې پاکې کړو،
چې د بل انسان (ژوند، فکر، احساس، عاطفې او عقیدې) ته، دوزخ ګرځېدای شي!
دا چاره مو پخپل لاس ده. پرته له دې چې د چا پزه خوړ شي، په یوازې ځان یې سرته رسولای شو او هغه هم همدا اوس!
یادونه:
که دې قفس قفس فکري- ټولنیزې فضا، زموږ ذهن او دریځ کې رېښه نه‌لرلای، نو ښایي داسې تیاره بخت نه وای راباندې واکمن شوی!»

«طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ وَ مُسْلِمَه»
جستجو و طلب علم بر هر مرد و زن مسلمان فرض است
(الحدیث)

به ریاست محترم پوهنحی ستوماتولوژی پوهنتون طبی کابل؛

جاهلیت وقتی به تمدن و مدنیت تبدیل میشود که عنصر محور آن علم باشد. محروم سازی نصف جامعه از تعلیم و تحصیل به معنی تخریب چندین نسل آینده این سرزمین بوده و ما منحیث فرزندان این وطن و قشر تحصیل یافته این دیار مجبوریم در حد توان صدای اعتراض خود را علیه این فرمان بلند کنیم.

پس بیان میداریم این که ما محصلین ذکور صنف پنجم پوهنحی ستوماتولوژی در اعتراض به حکم اخیر وزارت تحصیلات عالی در مورد بسته شدن درب های پوهنتون ها و مراکز تعلیمی و تحصیلی بروی دختران متدین و باشهامت این سرزمین تا بازگشایی تمام نهادهای تعلیمی و تحصیلی بروی خواهران مان به دروس خویش حاضر نمیشویم.
تحصیل برای همه یا هیچ !!

با احترام
(محصلین ذکور صنف پنجم پوهنحی ستوماتولوژی پوهنتون طبی کابل)

**د نر زامنو، اعتراض دغسې وي**

د طالبانو لوړو زدکړو وزیر، چې هیڅ ځای او هېڅ خبره یې د لوړو زدکړو وزیر ته نه پاتې کېږي؛ ویلي دي په خلورو دلایلو مو پوهنتونو کې د نجونو زدکړې ځنډولیي دي. د لوړو زدکړو سرپرست وزیر شیخ مولوي ندامحمد ندیم د نجونو پرمخ د پوهنتونونو تړلو دلایل په لاندې ویډیو کې له ملي تلویزیون سره په یوه مرکه کې توزیح کوي او هره خبره شرعیت ته سپاري او د شرعي قوانینو توزیح او شرحه هم له خپله ادرسه کوي:

https://www.youtube.com/watch?v=qJ0MtZL5wkE&ab_channel=RTAPashto
د نجونو محصلینو پرمخ د پوهنتون دروازې تړلو په مقابل د زدکونکو او خلکو غبرګون ښودل به د پروتست یو ډول وي، خو د چارواکو غوږنه پر دې شیانو نه خلاصېږي.

د نجونو لپاره د پوهنتونونو د دروازو تر بندېدو وروسته د یوې افغان فرهنګۍ او شاعرې آمنه فنا د زړه حال داسې دی:

د پښتنو په زیاتره کورنیو کې به دا لمړی نسل نجونې وې چې پوهنتون ته تلې لکه زمونږ په کورنۍ کې زما خویندو وي چې د کانکور ازموینه کې بریالۍ شوې او پوهنتون یې پیل کړ د یوې خور مې نن وروستی امتحان و
بیګاه یې ټوله شپه رڼه تېره کړه امتحان ته یې درس ویلو خو له بده مرغه نن یې مخکې له امتحانه پارچې ترې ټولې کړې پوهنتون ور وتاړه نن مات زړه او سرې سترګې کورته راغله. ننی ورځ په افغانولوټو داسې تېره شوه لکه شپه چې وي لکه هېڅ چې سهار نه وي راغلی، لمر نه وي راختلي
له بیګاه راهیسې مو دومره ژړلي یه خدایه مونږ څومره بد بخته مخلوق یو.»

د نجونو پرمخ د زدکړو د مرکزونو دروازې بندولو په مقابل کې د پروتستونو او نظریاتو په لړ کې داسې نظریات هم ړاندې شوي دي:

«افغانان عجب کمپیوز خلک دي، پر یوه سر شرعي نظام غواړي، پر بل سر یې بیا له فرمانونو ناخوښه وي.
هلکه خو همدا شرعي نظام دئ.
کېدایسي سبا د شریعت مطابق بل فرمان ورکړي چي که د هر چا لور یا خور پیغله سوه باید د کور پر سر بیرغ ودروي او اعلان وکړي چي که یې څوک غواړي راځئ.
عربو به په فزیکي لحاظ نجوني ښخولې، خو دا هم د یوې نجلی ښخول دي چي نه له کوره وتلایسي، نه تعلیم کولایسي، نه کار کولایسي او نه یې د خپل حق دعوه ممکنه وي.
د دین سیاسي کول نو دا میده میده نوکاري لري.»

د نړۍ اوو سترو صنعتي هېوادونو (بریتانیا، کانادا، ایتالیا، فرانسه، جرمني، جاپان او متحده ایالتونه) په نرمه بڼه د طالبانو له غوږه ورتېره کړېده چي د نجونو محصلینو پرمخ د پوهنتونونو دروازو تړلو پرېکړه دې بېرته واخلي ګني ښې پایلې به ونه لري او ښایي د دوی له لوري د طالبانو دا عمل «بشرضد جنایت» و شمېرل شي.

دا اخطارونه، نرمې یا تندي څرګندوني، د ډیپلوماتیک دود یوه برخه ده، اصلي خبره که راوسپړل شي هغه دا ده چي همدې څواکمنو هېوادونو نویو واکدارانو ته د څواک جلب په لاس کې ورکړی دی، اوس دې مسؤلیت هم همدا څواکمن هېوادونه ومني او په زغرده کې ورته ووایي چي نجونو، ښځو او خلکو ته وطن او کور مه زندان کوئ. بیا به ولېدل شي چي طالبان د خپل ټینګار له خره راښکته کېږي او که یې هماغسې مخ پروړاندې زغلوي.

په پای کې باید داسې وشي چي د «نه» په ویلو سره د ستمګرو د ټولو غیر انساني پرېکړو په مقابل کې خلک ودرېږي. ښاغلي محمدانور وفا سمندر په یوه فیسبوکي پیام کې دا

وړاندیز داسې مطرح کړ:«

«نه!»
یوه سراسري «نه!» په کار ده.
ټول خفه، په زړه دردمن، له ژړا ډک، ناراضه، په غوسه؛ خو له پلاره پلاره غلامانو په څېر- ذهنونه او عقلونه- تړلي!!

د یوې ګډې«نه!» زړه نه شو کوای!!
ښایي زموږ برخلیک دغه «نه!» وټاکي!
«نه!» ویل، د فکري بلوغ نښه ده!
احساسات د ماشومانو د خبرو ښایست دي.
نارینتوب رانه غواړي، چې د ځان او خدای ترمینځ، ولاړ دروغجن پولیسان او قاضیان، په یوې زړورې
«نه!» سره، بې‌وسه او بې‌کسه کړو !
موږ باید پر خپل ذهن او روان، راچاپېر ډېرین طلسم مات کړو، او ژوند ته ور خوشې شو!
ښایي زموږ تاریخ له همدې «نه!» پېل شي!
لکه دا زړه‌وره خور؛ یو امتحان یې په کار دی.»




یو ځل په میډیا کې پر افغنستان باندې د واکمنو ځینو امرینو په حواله داسې څه خپاره شول چې ګنې په افغانستان کې د کورنیو مشران خپله نه غواړي چې خویندې او لونې یې ښوونځي ته لاړ شي او یا لوړې زدکړې وکړي چې ما پر همدې موضوع باندې هم یوه [مقاله](#) ولیکله (خلک یې نه غواړي، خلک یې غواړي)

اوس په همدې موضوع پورې یو بل ژوندی مثال په مخه راغی چې خلک د خپلو لوڼو او خویندو له پاره ښوونځی او پوهنځی غواړي، دغه یې یوه ژوندۍ [بېلګه](#) ده:

«نوریه خور مې پخیر له پوهنتونه فارغه شوه.مبارک!
ماته یې ځلور کاله مخکې هغه شېبې ښې یادې شي چې په ټلیفون یې راته وویل «ګل لالا اومبارک شه، زه د ننګرهار پوهنتون ژورنالیزم پوهنځي ته کامیابه شوې یم» ما ویل مبارک شه.په ډېرې عاجزۍ یې دویمه خبره راغبرګه کړه، ویل یې« ګل لالا یوه خبره مې کوله، ما به پرېږدې چې پوهنتون ووایم کنه؟ ځکه هغه خو بل ولایت دی...» ما د خپلې خوږې خورکۍ ارمان حس کړ او په ډېر ویاړ مې وویل، حتماً به یې وایې پخیر، هیڅ تشویش مه کوه.

نن هغه دي زما د خور او ټولي کورنۍ یو ارمان پوره شو، هغه پخیر فارغه شوه. خویندې څومره خواریکښې وي، په اته واړه سمسترونو کې یې له اولي، دویمي او درېمي درجې ښکته نومرې نه دي اخیستي.
ورونو د خپلې خور د فراغت لپاره کیک اخیستی او پلار جان مې یې په څنګ کې ناست دی، مور او نورې خویندې مې خوشاله دي چې د خوښۍ دا شېبې نمانځي.
علم فحشا نه ده، بلکې حیا او رڼایي ده. علم مباح نه دی، بلکې فرض دی.
دریغه که اوسني واکمن زما د کشرۍ خور نازو د ښوونځي دروازې پرانیزې چې یولسم ټولګي ته د تګ په تمه یې له هېلو سره لوبې رواني دي... امین»

په ښوونځیو او پوهنتونو کې د نجونو پر تعلیم باندې بندیز مسأله کې د طالب چارواکو اختلاف اوس کومه پټه خبره نه ده، دوی په په دې برخه کې دوه جلا نظرونه لري، یوه ډله د نجونو تعلیم غواړي او بله ډله یې مخنیوی کوي.

د نجونو د ښوونځیو او پو هنځیو بندېدو د ستونزې په برخه کې یو نظر داسې دی چې: د پاکستاني مقاماتو په لاسوهنې سره د افغانستان د ښوونځیو او پوهنتونونو د تعلیمي نوي نصاب باندې کار روان دی؛ دوی غواړي چې د افغانستان د مدرن علمي نصاب ټولې برخې په مدرسه یي نصاب باندې واړوي. که هغوی بریالي شي چې خپل د خوښې وړ نصاب جوړ او د طالب مقاماتو په مرسته یې د اسلامي شریعت تر پردې لاندې جاري او تطبیق کړي، بیا به د افغانستان هرڅه، په تېره ملي مفاخر برباد وي؛ هلته به بیا چیغې وهو چې ښوونځي او پوهنځي تړلې ښه و، نه پرانستي.

لاندې عکس ته په لیدو سره دې هرڅوک قضاوت وکړي چې افغانان ښوونځی او پوهنځي غواړي که یې نه غواړي:



د اقتدار پر ګدۍ سپاره واکداران چې هرډول حکمونه کوي، کوي دي، خلک هم غلي نه کيني د خپلو امکاناتو او پوهې نه په استفادې سره د ناخوالو او ستونزو په مقابل کې درېږي، مبارزه کوي او مختنه راغلو ستونزو ته حللارې لټوي. يوه بېلګه يې دا ده:

**د خپلو لـوڼـو معلمي کـومـه**

په کړاوونو کې خندا وباسم
نور د غمونو نه ژړا وباسم

چې ارزښتونه مې زندۍ وي پکې
زه مې د هغې ساه نه ساه وباسم

د خپلو لـوڼـو معلمي کـومـه
کور نه د تور جهل بلا وباسم

زبون په کنج کې د کوټې نه کېنم
قام نه د وېرې مړه بلا وباسم

باور

د عبدالوهاب باور دې شعر ته په کامنټ کې ما (آصف بهاند) داسې وليکل:
د نجونو د تعليم مخنيوی اوس په افغانستان کې د يو ناسور تپ او لويې ستونزې بڼه غوره کړې ده، له دې ستونزې سره د مبارزې په لړ کې دا شعر ترسلو سياسي بيانيو او شعارونو مؤثر واقع کېدای شي، مننه باور صاحب!»

اوس تازه يوه طالب چارواکي داسې هيله خرګنده کړېده: «د طالبانو د حاکمې ادارې د کانونو او پټروليم وزير مولوي شهاب الدين دلاور ويلي ،چې د ورې تر مياشتې به د ښوونځيو او پوهنتونونو لپاره مناسب شرايط برابر او ښوونيز بهير به پيل شي...»

که منطق موجود وي، بايد دا پوښتنه مطرح شي چې د کانونو او پټروليم وزير يې په ښوونځيو څه کار، د دوی د پوهنې وزير ولې دا څرګندونې نه کوي او...

خلک داسې وايي چې بيا هم سمه ده که د معدنونو وزير وايي او که يې کوم بل وزير، په خوله او خبره يې برکت، موږ زردالو غواړو، که له چنار نه يې راکوي که د زردلو له ونې، پر موږ يې باک نه شته؛ اوس دې خدای دا خبره را رېښتيا کړي.

**د هغې ورځې په هيله!**